# تابش پوهنتون

## محصلانو چارو معاونیت

## کارموندنې مرکز

# د کارموندنې مرکز میکانیزم

کال:۱۴۰۴

# فهرست


مقدمه ........ 3

د کړنلارې اړتیا ........ 3

د کړنلارې د تطبیق ساحه: ........ 3

اهداف: ........ 4

کارموندنې مرکز کاري مسؤلیتونه: ........ 4

کاري فرصتونو موندنه او پلټنه: ........ 4

د فارغانو څخه د دندو اړوند سروې ترسره کول: ........ 5

د کارگومارونکو فارغانو څخه د میکانیزم په اساس د مهارتونو د تشخیص سروې ترسره کول: ........ 5

د تشخیص شویو مهارتونو د ودې او انکشاف لپاره سیمنارونه دایرول: ........ 5

د محصلینو د عملي زده کړو په موخه تفاهم لیکونو زمینه سازي: ........ 6

کار زده کړو (Internship) ته د محصلینو پېژندنه ........ 6

تصویب او تائید: ........ 7

# مقدمه

د لوړو زده کړو بنسټونو اساسي موخه یوازې د نظري پوهې وړاندې کول نه دي، بلکې د داسې وړ، مسلکي او بااستعداده کادرونو روزل دي چې وکولای شي د کار بازار اړتیاوو ته اغېزمن ځواب ووایي. په همدې اساس، د محصلینو د ظرفیت لوړونه، د عملي مهارتونو پیاوړتیا، او د کارموندنې اسانتیا برابرول د پوهنتونونو له مهمو مسؤلیتونو څخه شمېرل کېږي.

د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره، اړینه ده چې محصلینو ته د کارموندنې اړوند بنسټیز مهارتونه لکه د سوانح حیات (CV) جوړول، د مرکې مهارتونه، او د دندې د اغېزمنې پلټنې لارې چارې ورزده شي. همدارنګه، د ظرفیت لوړونې منظم پلانونه جوړ او عملي شي، څو محصلین وکولای شي خپل علمي او عملي توانایي لا پیاوړې کړي.

سربېره پر دې، د کار بازار سره د اړیکو ټینګښت، د وظیفوي فرصتونو شریکول، او د دولتي او خصوصي ادارو سره د تفاهم لیکونو لاسلیک د دې زمینه برابروي چې محصلین عملي زده کړو (Internship) ته لاسرسی پیدا کړي او د کاري تجربې څخه برخمن شي. د دې تر څنګ، د فارغو محصلینو د کاري وضعیت څارنه، د سروې ګانو ترسره کول، او د معلوماتو تحلیل د دې لامل ګرځي چې د کار بازار اړتیاوې په دقیق ډول وپېژندل شي.

همدارنګه، د مهارتونو د تشخیص پر بنسټ د روزنیزو ورکشاپونو او سیمینارونو تنظیم، د نوښتګرو محصلینو پېژندنه، او هغوی ته د ودې فرصتونو برابرول د دې پروسې مهمې برخې دي. په پایله کې، د کار بازار د غوښتنو سره سم محصلینو او فارغانو ته لازمې مشورې او لارښوونې ورکول کېږي، څو هغوی وکولای شي په بریالیتوب سره دندې ترلاسه کړي او په ټولنه کې اغېزمن رول ولوبوي.

## د کړنلارې اړتیا

د تضـمین کیفیت د اتم معیار 8.3 په اسـاس پوهنتونونه مکلف دي چې  چې د فارغ التحصـیلانو د اسـتخدام لپاره د زمینې برابرولو او د محصلانو د کاري ظرفیت د لوړولو په موخه، د علمي پروګرام له مخې عملاً فعالیتونه ترسره کړي دي. د کارموندنې مرکز فارغانو لپاره د کاري فرصـــتونو په موندنه، د مهارتونو په لوړونه او د کاري بازار سره په نښـــلولو کې مهم رول لوبوي. دغه مرکز د مسـلکي مهارتونو د پراختیا لپاره سـیمنارونه، ورکشـاپونه او روزنیز پروګرامونه برابروي او د پوهنتون، محصـلینو او د کار بازار ترمنځ د اغېزمن پُل په توګه فعالیت کوي.

## د کړنلارې د تطبیق ساحه:

دا کړنلاره د پوهنتون د ټولو پوهنځیو برحاله محصلینو او فارغانو ته تطبیق کېږي او د کارموندنې مرکز له خوا عملي کېږي.

1. هغه فارغ یا برحال محصـــلین چې غواړي له پوهنتون څخه د باندې عملي زده کړه انټرنشـــیپ وکړي د کارموندنې مرکز له لوري د ټاکلې مودې لپاره معرفي کیږي او بیرته د عملي زده کړو راپور په مکتوبي ډول پوهنتون ته راوړي.
2. هغه برحال یا فارغ محصـلین چې غواړي چې پوهنتون کې عملي زده کړه یا انټرنشـیپ وکړي دوی هم د کارموندنې مرکز له لوري د یوې ټاکلې مودې لپاره د خپل مسـلک اړوند برخې ته ور پیژندل کیږي او د عملي زده کړو مودې له بشپړولو وروسته راپور یې له یاد مرکز سره شریکیږي.

3. او د پوهنځیو له لوري عملي زده کړو ته پیژندل کیدونکي محصـــلین به د پوهنځیو له لوري لومړی کارموندنې مرکز ته بیا به له دې ادرسه اړونده ادارو ته د کار زده کړې لپاره معرفي کیږي.

## اهداف:

1. د محصلینو لپاره د کاري فرصتونو رامنځته کول او د هغوی د مسلکي ژوند پیل کې مرسته کول.
2. د محصلینو د مهارتونو لوړونه د سیمنارونو، ورکشاپونو او روزنیزو پروګرامونو له لارې.
3. د پوهنتون او کاري بازار ترمنځ د اړیکو ټینګول.
4. د محصلینو د کار موندنې کچه لوړه ول او د بېکارۍ کچه راکمول.
5. د محصلینو لپاره د ځان پېژندنې، مسلکي اخلاقو او د کاري مرکې لپاره د تیاري فرصت برابرول.

## کارموندنې مرکز کاري مسؤلیتونه:

1. محصلینو ته د کار موندنې اړوند مهارتونه لکه د CV جوړول، د مرکې مهارتونه او د دندې لټون لارې چارې ورزده کول.
2. د محصلینو د ظرفیت لوړونې پلان جوړول او د هغه د تطبیق لپاره لازم اجراات ترسره کول.
3. د وظیفوي فرصتونو اړوند معلومات او لینکونه له فارغو او برحاله محصلینو سره شریکول.
4. د محصلینو د ظرفیت لوړونې او کارموندنې په برخه کې د تفاهم لیکونو د لاسلیک لپاره زمینه برابرول.
5. د تفاهم لیکونو په اساس کار زده کړې ته د محصلینو معرفي کول.
6. د معرفي شوو محصلینو راپورونه جوړول او مستند سازي کول.
7. استخدام شویو او فارغو التحصیل محصلانو معلومات او احصائیې ترتیبول.
8. د کارګمارونکو او فارغ‌التحصیلانو څخه د نظر سنجۍ میکانیزم په اساس اجراات ترسره کول.
9. د فارغو محصلینو د ګومارنې سروې د پوهنځیو او ډیپارټمنټونو په تفکیک ترسره کول.
10. د ترسره شویو سروې ګانو پایلې تحلیلول او اړوند راپورونه چمتو کول.
11. د تشخیص شویو مهارتونو پر بنسټ د مهارتونو د لوړولو لپاره روزنیز ورکشاپونه او سیمینارونه تنظیمول.
12. نوښتګر محصلین پېژندل او د هغوی لېستونه ترتیبول.
13. د کار بازار د اړتیاوو سره سم، فارغو او برحاله محصلینو ته لازمې لارښوونې او مشورې ورکول کول

## کاري فرصتونو موندنه او پلټنه:

د محصـلینو د بریالي راتلونکي لپاره دا ډېره مهمه ده چې هغوی د کار بازار اړتیاوو سره سـم لازم مهارتونه او لارښـوونې ترلاسـه کړي. په همدې موخه، د دندې پلټنې اړوند لاندې فعالیتونه ترسره کېږي:

محصـلینو ته د کارموندنې اسـاسي مهارتونه لکه د CV یا سـوانح حیات جوړول، د مرکې (Interview) مهارتونه، او د دندې د اغېزمنې پلټنې لارې چارې ورزده کېږي، څو هغوی وکولای شي په رقابتي چاپېریال کې ځانونه په ښـــه ډول وړاندې کړي. همدارنګه، د محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره جامع پلانونه جوړېږي او د تطبیق لپاره یې عملي ګامونه اخیستل کېږي.

د کارموندنې اړوند تازه معلومات، وظیفوي فرصـــتونه او اړوند لینکونه له فارغو او برحاله محصـــلینو سره په دوامداره توګه شریکېږي، ترڅو هغوی د فرصتونو څخه پر وخت ګټه واخلي. برسېره پر دې، د بېلابېلو ادارو او سازمانونو سره د تفاهم لیکونو (MoUs)د لاسـلیک لپاره زمینه برابرېږي، چې له مخې یې محصـلین د عملي زده کړو (Internship) او کاري تجربې ترلاسـه کولو ته معرفي کېږي.

## د فارغانو څخه د دندو اړوند سروې ترسره کول:

د فارغانو د کاري وضـــعیت د ارزونې او د کار بازار د اړتیاوو د درک کولو په موخه، د دندو اړوند منظمې سروې ګانې ترسره کېږي. دا سروې د دې لپاره طرحه کېږي چې د فارغ‌التحصـیلانو د اسـتخدام حالت، د هغوی دندو ډول، د کار موندنې موده، او د تحصیلي رشتې سره د دندې د تړاو کچه په دقیق ډول وڅېړل شي.

په دې پروســـه کې، معلومات د پوهنځیو او ډیپارټمنټونو په تفکیک سره راټولېږي، څو وکولای شـــو د هرې برخې د فارغانو وضـعیت جلا جلا تحلیل کړو. همدارنګه، د سروې له لارې د کارګمارونکو نظرونه هم اخیسـتل کېږي، ترڅو د مهارتونو تشــې (Skill Gaps)په ګوته شي.

د راټولو شـــوو معلوماتو پر بنســـټ، تحلیلي راپورونه ترتیبېږي چې د پوهنتون د رهبرۍ او اړوندو څانګو سره شریکېږي، څو د نصاب د اصلاح، د مهارتونو د لوړولو پروګرامونو، او د کارموندنې د اسانتیاوو په برخه کې اغېزمن تصمیمونه ونیول شي.

په پایله کې، دا سروې نه یوازې د فارغانو د وضعیت په ښه درک کې مرسته کوي، بلکې د محصلینو د راتلونکي لپاره د لا غوره چمتووالي زمینه هم برابروي.

## د کارګومارونکو فارغانو څخه د میکانیزم په اساس د مهارتونو د تشخیص سروې ترسره کول:

د دې لپاره چې د کار بازار اړتیاوې په ســـمه توګه درک شي او د فارغانو مهارتونه ورسره همغږي شي، د یو منظم میکانیزم له مخې د کارګومارونکو او فارغانو څخه د مهارتونو د تشـــخیص سروې ترسره کېږي. دا سروې د دې موخه لري چې د موجوده مهارتونو او د کار بازار د غوښتنو ترمنځ واټن (Skill Gap) په واضح ډول وپېژندل شي.

په دې میکانیزم کې، له کارګومارونکو څخه د اړینو تخنیکي او نرمو مهارتونو (Soft & Hard Skills) په اړه معلومات راټولېږي، او له بلې خوا د فارغانو عملي وړتیاوې، تجربې او دندې پورې اړوند مهارتونه ارزول کېږي. دا معلومات د معیاري پوښـتنلیکونو، مرکو او انلاین سروې ګانو له لارې ترلاسه کېږي.

راټول شوي معلومات تحلیل کېږي ترڅو هغه مهم مهارتونه تشخیص شي چې فارغان پکې کمزوري لري یا ورته اړتیا زیاته ده. د دې تحلیل پر بنسټ، مفصل راپورونه چمتو کېږي او د پوهنتون اړوندو ادارو سره شریکېږي.

په پایله کې، د همدې سروې د موندنو له مخې د مهارتونو د لوړولو لپاره هدفمند روزنیز پروګرامونه، ورکشـاپونه او سـیمینارونه تنظیمېږي، څو فارغان د کار بازار غوښتنو ته په ښه توګه چمتو شي او د کارموندنې فرصتونه یې زیات شي.

## د تشخیص شویو مهارتونو د ودې او انکشاف لپاره سیمنارونه دایرول:

د مهارتونو د تشخیص سروې ګانو له پایلو وروسته، هغه مهم مهارتونه چې د فارغانو او محصلینو ترمنځ پکې تشې موجودې وي، په نښه کېږي. د همدې تشخیص پر بنسټ، د مهارتونو د ودې او انکشاف لپاره هدفمند سیمینارونه او روزنیز پروګرامونه تنظیم او دایرېږي.

په دې سیمینارونو کې هڅه کېږي چې هم تخنیکي (Technical Skills) او هم نرمو مهارتونو (Soft Skills) ته پاملرنه وشي، لکه د اړیکو مهارتونه، ټیم ورک، د ستونزو حل، مشرتابه، او د کار چاپېریال سره د تطابق وړتیا. دا پروګرامونه د متخصصو استادانو، د صنعت د کارپوهانو او تجربه لرونکو اشخاصو له لوري وړاندې کېږي، ترڅو ګډونوال له عملي تجربو څخه هم ګټه واخلي.

سربېره پر دې، سیمینارونه په عملي بڼه (Interactive) تنظیمېږي، چې پکې ګډونوال وکولای شي خپل مهارتونه تمرین کړي او د واقعي کاري حالاتو لپاره چمتو شي. د هر سیمینار وروسته ارزونه هم ترسره کېږي، څو د پروګرام اغېزمنتیا وڅېړل شي او راتلونکو فعالیتونو ته لا ښه والی ورکړل شي.

داسې سیمنارونه ته به فارغاند رسمي مکتوبو نو په اساسر رادعوت کیږي ترڅو ځانګړې ورکشاپونه او سیمنارونو کې ګډون وکړي.

په پایله کې، دا ډول سیمینارونه د محصلینو او فارغانو ظرفیت لوړوي، هغوی د کار بازار اړتیاوو سره برابر کوي، او د کارموندنې چانسونه یې زیاتوي.

## د محصلینو د عملي زده کړو په موخه تفاهم لیکونو زمینه سازي:

د دې لپاره چې محصلین د نظري زده کړو تر څنګ عملي تجربه هم ترلاسه کړي، د بېلابېلو دولتي او خصوصي ادارو، شرکتونو او سازمانونو سره د تفاهم لیکونو (MoUs) د لاسلیک لپاره زمینه برابرېږي. دا تفاهم لیکونه د پوهنتون او اړوندو ادارو ترمنځ د همکارۍ یو رسمي چوکاټ رامنځته کوي، چې له مخې یې محصلینو ته د عملي زده کړو، انټرنشیپ (Internship) او کاري تجربې فرصتونه برابرېږي.

په دې بهیر کې، لومړی د کار بازار اړتیاوې او د اړوندو ادارو ظرفیتونه ارزول کېږي، بیا د همکارۍ لپاره مناسب بنسټونه پېژندل کېږي. وروسته له هغه، د دواړو لوریو ترمنځ د همکارۍ شرایط ترتیب او د تفاهم لیکونو د لاسلیک لپاره لازمې اسانتیاوې برابرېږي.

د تفاهم لیکونو له لاسلیک وروسته، محصلین د خپلو تحصیلي رشتو سره سم اړوندو ادارو ته د عملي زده کړو لپاره معرفي کېږي. دغه پروسه نه یوازې د محصلینو مهارتونه پیاوړي کوي، بلکې هغوی ته د کار واقعي چاپېریال سره د بلدتیا زمینه هم برابروي.

سربېره پر دې، د تطبیق بهیر په دوامداره توګه څارل کېږي او د اړوندو ادارو او محصلینو ترمنځ همغږي ساتل کېږي، څو د عملي زده کړو کیفیت تضمین شي. په پایله کې، دا نوښت د محصلینو د ظرفیت لوړونې، د کارموندنې د فرصتونو زیاتوالي او د اکاډمیک او عملي سکتور ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا لامل ګرځي.

## کار زده کړو (Internship) ته د محصلینو پېژندنه

د دې لپاره چې محصلین د عملي مهارتونو د ترلاسه کولو فرصت ومومي او د کار له واقعي چاپېریال سره بلد شي، هغوی د کار زده کړو (Internship) پروګرامونو ته پېژندل کېږي. دا بهیر د پوهنتون او همکارو ادارو ترمنځ د تفاهم لیکونو پر بنسټ تنظیمېږي، چې له مخې یې محصلین د خپلو تحصیلي رشتو سره سم اړوندو ادارو ته معرفي کېږي.

په دې پروسه کې، لومړی د محصلینو وړتیاوې، علاقه‌مندي او تحصیلي رشته ارزول کېږي، ترڅو هر محصل د هغه د مهارتونو سره سم مناسب ځای ته ور وپېژندل شي. وروسته، د ټاکل شوو معیارونو پر بنسټ محصلین د کار زده کړو فرصتونو ته معرفي کېږي.

د کار زده کړو په جریان کې، محصـــلین کولای شي خپل نظري معلومات په عملي بڼه وکاروي، نوي مهارتونه زده کړي، او د مســـلکي اړیکو (Networking) فرصـــتونه رامنځته کړي. همدارنګه، د دې پروګرام له لارې هغوی د کار د چاپېریال اصـــول، مسؤلیتونه او مسلکي چلند زده کوي.

د پروګرام د اغېزمنتیا د یقیني کولو لپاره، د معرفي شـــوو محصـــلینو فعالیتونه په دوامداره توګه څارل کېږي او اړوند راپورونه ترتیبېږي. په پایله کې، دا بهیر د محصـلینو د ظرفیت لوړونې، د کاري تجربې ترلاسـه کولو، او د راتلونکې دندې موندنې لپاره مهمه زمینه برابروي.

---

## تصویب او تائید:

د کار موندنې مرکز پورتنی میکانیزم د پوهنتون د علمي شورا په ( ۱۲ ) ګڼه پورتوکول (۲۸/۱۱/۱۴۰۲) نېټه تائید او د تطبیق وړ دی.

**علمي شورا منشي** **د علمي شورا مشر**